# اسلام اوساینس په حیض کی کوروالی )جماع

عبدالغفارجُبیر

ویسئلونک عن المحیض قل هو اذی فاعتزلواالنساء فی المحیض ولاتقربوهن حتی یطهرن فاذاتطهرن فاتوهن من حیث امرکم الله ان الله یحب التوابین ویحب المتطهرین (221، البقره(

اوپوښتنه کوی دوی له تانه (ای محمده!) له احکامودحیض څخه، ووایه (ای محمده دوی ته) داپوه پلېتی ده نوپه څنګ (جدا) شی له جماع (کوروالی) دښځوخپلوپه وخت دحیض کښي اومه نژدې کیږئ! (په جماع سره) دوی ته ترهغه پوری چی ښې پاکي شی۔ نوکله چی ښې پاکي شی دوی (ښځي) نوراځی دوی ته (په جماع سره) له هغه ځایه چی حکم کړیدی دی تاسی ته الله، بېشکه چی الله خوښوی بیابیاتوبه ایستونکی (له ګناهونوڅخه) اوخوښوی ځان ساتونکی له (پلیتیوڅخه)۔

تفسیر:

حیض هغه وینوته وایی چی له ښځوځنی سم دهغوله عادت سره بهیږی په دې حالتی کی مجامعت، لمونځ، روژه، طواف، دقرانکریم تلاوت، مسجدته ننوتل ټول حرام دی، هغه وینه چی بې له عادت څخه لیدل کیږی، هغه ناروغی ده، نوپه دې ناروغی کښي چی دفقهاوویه اصطلاح ورته ((استحاضة) وایی دغه پاس ټول ممنوعه شیان روادی، اودهغي وینې حال هسی دی لکه چی له کوم زخم یاپوزې یارګ وهلوځنی وینه بهیږی۔یهودانواومجوسیانو دحیض په وخت کښي له ښځوسره ډوډی خوړل، اوپه یوه کورکښي هستوګنه کول، اونورشیان هم ناجائزګڼل، مګرنصرانیانوحتی دحایضوښځوله مجامعت ځنې هم ځانونه نه ژغورل؛ مسلمانانوپه دې مورد کښي له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړل نودایت نازل شو، حضرت پیغمبرصلی الله علیه وسلم په ښکاره ډول سره وفرمایل چی دحیض په حالت کښي مجامعت حرام دی۔ لیکن له دوی سره خوړل، څښل، هستوګنه کول، ناسته ولاړه کول داټول روادی، اودیهودانوافراط اودنصرنیانوتفریط دواړه مردودشول۔

په پاکېدوکی داتفصیل دی که حیض پخپله موده یعنی (10) ورځوکی بندشو، نوهلته مجامعت روادی که دلسوورځوڅخه وینه وچه شوه دبېلګي په ډول سره له (6) ورځواودښځي عادت هم شپږورځي وي نومجامعت دوینې له وچیدوڅخه وروسته ترهغه پوری روانه دی، چی ښځه ولامبی، یادیوه لمانځه وخت پرې تیرشی، نووروسته له هغه نه له هغي سره مجامعت رواشی، که دښځي عادت اوه (7)یااته (8) ورځي وي، نوددې ورځودختم (بشپړ)کیدلوڅخه وروسته به مجامعت ورسره رواکیږی۔

)کابلي تفسیر سعودی چاپ تالیف: شیخ الهندمولانامحمودالحسن دیوبندی(رح) اوعلامه شبیرعثمانی (رح)۔

ددې څخه معلومه شوه چی لوی څښتن تعالی جل جلاله ودې ناروغی ته دچتلی نوم ورکړیدی نوځکه وخاوندته په دغه حالت کښي دلېرې والی حکم شویدی۔

داسلام خوږپیغمبرصلوات الرحمن علیه وسلامه فرمایی:

کوم څوک چی دحیض په حالت کی دخپلي ښځي سره جماع وکړل، یایونجوم کرته ورغلی اوهغه (نجوم گر) چی څه ویل هغه ئي ومنل، نودغه سړی (چی په حیض کی جماع وکړل اودنجومګرخبره ئي ومنل) پرمحمدچی هرڅه نازل شویدی دهغه څخه ئي انکاروکی اوکافرسو. (ابوداؤد، نسایی، ترمذی؛ صحیح حدیث شریف)

کله چی دام المومنین حضرت عایشه رضی الله تعالی عنهاڅخه وپوښتل شول چی وخاوندته چی ښځه ئي په حیض کی وی څومره اجازه لری؟؟؟ نودمسلمانانومورحضرت بي بی عاشی رضی الله عنها ورته وویل: چی ټوله ورته حلال دی مګرنه شرمگاه.

دحیض په حالت کی یوخاونددخپلي ښځ سره مجامعت (کوروالی) نشی کولای، اوددې څخه علاوه هرقسم تعلقات ورسره ساتلای شی .(تفسیر ابن کثیر)

کله چی دحیض څخه وروسته ښځي خپله پوره صفایی (غُسل) نه وکړی بایدمجامعت ورسره ونشی داځکه چی دطب له نظره داتاوان لری، اوکوم اولادچی ئي پیداکیری هغه به د(پیس په ناروغی) اخته کیری. (احیاء العلوم الدین، امام غزالی رحمة الله علیه).

چی دټوله طب وربا‌ندی اتفاق دی چی په دې حالت کی (کوروالی) دډیروناروغیوسسب گرځی. (حجة الله البالغه)

دحیض پرمهال دښځي سره جنسی اړیکی نیول حرام دی، البته که دمجامعت څخه ماسوی خاوندخپل دزړهٔ تسکین راولی نوراوستلای ئي شی. (المغنی لابن قدامه)

دفطرت سلیم هم داتقاضاء ده چی کله ښځه لومړي داناروغي ده، اودوهم چټلي ده، نولړی کېدل پکاردی، داځکه په دغه وخت کی ښځه جسمااوروحاودي کارته اماده نه ده، چی ورڅخه لیري کېدل ډېرښه دی.(روانشناسی)

دپروفیسر(میسی) تجربي

په (The News) کی دده هغه څرگندوني اوتجربي چی دحیض په حالت کښي جماع (کوروالی) کولوباندی مشتملي دي په لاندی ډول سره دی:

ـ دحیض په حالت کی مجامعت کول، دنرجنسی نظام ختمېدای سی، چی بیاپه ډاکټرانوبه گرځی او هیڅ علاج اودارودرمل به ئي نه وی.

ـ دځانګړي اندامو‌پوستکی سخت ناهمواره کیږی، چی بیاپه دي مجامعت کی داسی خوندنه وی لکه په فطری جسم کی چی شتون لری.

ـ دنرتناسلی اله کوچني کيږی، چی علاج ئي ناشونی دی.

ـ دښځي په عضومخصوص کی خارش اونرپه حساسيت (الرجی) اخته کيږی.

ـ دحيض په حالت کی جماع دنردپراستيټ غُدي غټوی، چی کله بولي بندی اوياهم دسوزک ښکارسی.

ـ کله دحيض په حالت کی وينه دوېني جريان دومره شدت ومومی چی کنترول ئي ډېروخت اودانسان دمرګ سبب ګرځی.

(Islam and Sex for All)

دحيض په وخت کی جماع (کوروالی ) اودهغي تاوانونه

ـ دښځي په اندامو کی ډېرسخت درددپيداکيږی، په بچدان کی سوخت اوسوزش پيداکيږی، چی کنترول ئي بياناشوني دی.

ـ ددې سره تخمدان په مکلمه توګه سره له مينځه ځی.

ـ دحيض فاسدموادورحم ته ځی چی سخت سوخت اواتشک ورڅخه پيداکيږی.

ـ کله دحيض په وخت کی ددې فاسدوموادواغيزې دنرو(خصيو) ته رسيږی چی هغه (عقيم) وچ ګرځوی.

ـ دحيض دفاسدوموادوڅخه دنرتناسلي الي ته داسی ناروغي پيداکيږی چی علاج ئي ناشوني دی.

ـ دحيض پرمهال کوروالی ، ښځه په مکمل ډول سره (عقيمه) وچه کوی، چی دتل لپاره ئي بيااولاد نه کيږی

)القران والتحقيق الجديد(

دانسان په وجودکی دوه قسمه افرازات شتون لری:

1ـ هغه قسم افرزات دی چی دژوندلپاره ضررې نه دی (Secretion) لکه هضم، تناسل، هامونونه او...

2ـ داهغه قسم افرازات دی چی بايددبدن څخه خارج شی، داځکه چی داوانسان ته ضرررسوی (Excretion) لکه بولي، خوله، حيض اوداسی نور...

داچی لوی خدای جل جلاله دحيض په حالت کښي مجامعت حرام کړيدی په دې ډېرې ګټي نغښتی دې، چی په دغه حالت کی دنراودښځي دواړولپاره دحيض په حالت کی جماع کول تاوانونه لری، اودلېرې والي په صورت کی بې شمېره ګټي لری. اوداچی موږالله جل جلاله موږمنع کړی يونوپه هغه کی داتاوانونه شته.

- درحم مخاطی غشاء دزخم په حالت کی وې، چی ورڅخه وینې، پاته هګې، مختلف النوع هارمونونه ، معدنی مواد اوزهرقاتل په شان نورموادورڅخه خارجیږی، چی دجماع په کولوسره ډېربدې پایلې لری۔

- په دغه حالت کی کوروالی کول دزیاتي وینې بهېدوسبب ګرځی چی درحم لپاره ددایمی تاوان سبب ګرځی۔

- په دغه حالت کی ورحم ته په اسانی سره میکروب داخلېدلای شی، چی درحم دنورالتهاب عامل ګرځی، چی پایلې ئې سخت درد اوتکلیف دی۔

- په دغه حالت کی کوروالې ددې سبب کیږی چی وینه دې بنده شی چی بیادپاړسوب ورڅخه موندل کیږی۔

- دحیض په وخت کی زیاتې ښځې ددرد احساس کوی چی د(کوروالی) سره نوردردونه هم اضافه کیږی۔

- دحیض په حالت کی ښځه جسمااوروحاودې کارته نه ده ماده، داځکه دادپلېتۍ ، دردونواوغیرسکون ښکارده، چی ښځه په روانې ناروغیواخته کیږی۔

- ښځه درحم په سرطان اخته کیږی۔

که دحیض په حالت کی ښځه حمل واخلی نواولادبه ئې نه نروی اونه هم ښځه (نرښځی)۔

)اعجاز القران(

دحیض په حالت کی کوروالې اودنرلپاره ئې پایلې

- لکه څرنګه چی دحیض پرمهال پوره چټلې، موجوده ده نوځکه نردډېروناوړوناروغیوښکارکیږی۔

- دحیض په حالت کی کوروالی دنرذکروموسوم فعالیت له مینځه وړی چی بیائی اولاد نه کیږی۔

- نرچی ددې چټلې پرمهال کوروالی کوی، ددې چټلی دتعفن په وجه په ناوړوروانې ناروغیواخته کیږی۔

- که نردحیض په حالت کی کوروالی کوی نود(پیس) په ناروغی اخته کیږی۔

- دنرتناسلې اله په ناعلاجه دپوستکې په ناروغیواخته کیږی۔

(Islam and Modern Medical Science)